عملونه شپږ دي او خلک څلور ډوله دي، دوه عملونه دي چې واجبوونکي دي، او - بل ډول - سر په سر، او نيکي يو په لس چنده ده، او - بل ډول - نيکي په اووه سوه ده

له خريم بن فاتک رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «عملونه شپږ دي او خلک څلور ډوله دي، دوه عملونه دي چې واجبوونکي دي، او - بل ډول - سر په سر، او نيکي يو په لس چنده ده، او - بل ډول - نيکي په اووه سوه ده ؛ نو هغه دوه عملونه چې واجبوونکي دي- دا دي چې - څوک پداسې حال کې مړ شو چې د الله تعالى يې سره يې شرک نه وي کړی نو جنت ته داخل شو، او څوک چې مړ شو پداسې حال کې چې د الله تعالى سره يې شرک کړی وي اور ته داخل شو، او هغه چې سر په سر دي - دا دي چې - چا د نيکۍ اراده وکړه تر دې چې په زړه کې يې احساس کړي او الله تعالې يې په نيت پوه شي نو نيکي به ورته وليکل شي، او چا چې ګناه وکړه، نو ګناه به پرې وليکل شي، او چا چې نيکي وکړه نو لس چنده به ورته حساب شي، او چا چې د الله تعالى په لار کې څه ورکړل نو يوه نيکي په اووه سوه ده. او خلک چې دي؛ نو يو ډول يې داسې دي چې په دنيا کې پرې پراخي وي خو په آخرت کې به پرې تنګستيا وي - او بل ډول يې هغه دي چې - په دنيا کې پرې تنګستيا وي او په اخرت کې پرې پراخي وي، - او بل هغه دي چې - په دنيا او آخرت دواړو کې پرې تنګستيا وي - او بل هغوی دي چې - په دنيا او آخرت کې پرې پراخي وي».

[حسن] [احمد روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې عملونه شپږ ډوله دي او خلک څلور ډوله دي، او هغه شپږ عملونه دا دي: لومړی: څوک چې پرته له دې چې له الله تعالى سره څه شريک جوړ کړي مړ شي، جنت ورته واجب دی. او دويم: څوک چې په داسې حال کې مړ شي چې له الله سره يې شرک کړی وي، هغه ته اور واجب شو او تل به پکې وي. او دا دواړه واجبوونکي دي. او دريم: هغه نيکي چې - يوازې - نيت يې شوی وي، نو چا چې د نيک عمل نيت وکړ نيت پوه شو خواو په خپل نيت کې رښتينی و، تر دې چې هغه يې په زړه کې محسوس کړ او الله تعالى د هغه پدې بيا ورته يو کار رامخې ته شو چې له امله يې نومورې عمل تر سره نه کړای شو، نو د هغه لپاره پوره نيکي ليکل کيږي. څلورم: هغه بد عمل چې تر سره شوی وي؛ نو چا چې بدي وکړه، د هغه لپاره به يوه بدي وليکل شي. او دا هغه دوه عملونه دي چې سر په سر دي او زياتوالی پکې نشته. پنځم: يوه نيکي چې د لسو نيکيو سره برابره ده، دا هغه څوک دی چې د نيکۍ نيت يې کړی وي او نيکي يې تر سره کړی وي، نو د ده لپاره لس نيکۍ ليکل کيږي. شپږم: يوه نيکي د اوو سوو نيکيو سره برابره ده، او څوک چې يو ځل د الله په لاره کې انفاق وکړي، نو دا نيکي ورته اووه سوه نيکۍ ليکل کيږي، او دا د الله تعالى له فضل او سخاوت څخه دي په خپلو بنده ګانو. او کوم چې څلور ډوله خلک دي نو په لاندې ډول دي: لومړی: هغه څوک دی چې په دنيا کې يې رزق پراخه وي، په نعمتونو کې وي، څه چې وغواړي هغه پکې مومي، مګر په آخرت کې به پرې تنګستيا وي او تګ به يې د دوزخ لورې ته وي، دا هغه کافر دی چې شتمن وي. او دويم: هغه څوک دی چې په دنيا کې پرې د رزق تنګستيا وي، خو په آخرت کې پرې پراخي وي او منزل يې جنت دی، دا غريب مؤمن دي. او دريم: هغه دی چې په دنيا او آخرت دواړو کې پرې تنګستيا وي، چې دا فقير کافر دی. او څلورم هغه څوک دی چې په دنياو او آخرت دواړو کې پرې پراخي وي، چې دا مالداره مؤمن دی.


النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY


لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee